# بې وخته تقاضې




اکمل اعلام

بې وخته تقاضې

اکمل اعلام

۱۴۰۱

# Bey Wakhta Taqazey

Pashto Poetry

ماښامونه مې اوږده لکه کلونه
او کلونه مې کوتاه لکه ماښام

Ketabton.com

ISBN 978-9936-1-0629-1

Akmal Elam



(c) ketabton.com: The Digital Library

# بې وخته تقاضې




اکمل اعلام

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د دې کتاب ټول حقوق د لیکوال سره خوندي دي -

ISBN 978-9936-1-0629-1

9 789936 106291

# بې وخته تقاضې

## د شعرونو مجموعه

شاعر: **اکمل اعلام**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کتاب ځانګړنې


| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | : | بې وخته تقاضې |
| شاعر | : | اکمل اعلام |
| د پښتۍ مفکوره | : | عبدالوهاب اعلام |
| د پښتۍ انځور | : | مهدي مسچي |
| ډیزاین | : | اکمل اعلام |
| چاپ وار | : | لومړی |
| د نشر کال | : | ۱۴۰۱ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې وخته تقاضې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اهدا

کــه مې ځــان تــه هم ليکلي يا ويلي
په همه معنی اعلام دی چې اهدا دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سرلیک

چې له ژونده زه څه غواړم او ژوند ما ځیني څه غواړي. د مغرب د بې مِهریو نه نیولی د ډلي تر محبته، د کابل تر افراطیته او د فارس تر اصالته. ښه ستړی ښه ستومانه. خو لا پوه نه یم چې له ژونده زه څه غواړم او ژوند ما ځیني څه غواړي. د ژوند ټولې تقاضې مې په سر سترګو، خو دا ځیني یې کمال کړي. یا له وخته دومره وړاندې چې سویې نه مې بالا وي او یا دومره معطل شي چې که وشي خوند یې نه وي. زه هم ډیر پرې نه پوهیږم، نه پر ما پوره پوهیږي چې له ژونده زه څه غواړم او ژوند ما ځیني څه غواړي.
د هندسې او کمپیوټر نه لرې، د روزګار د سرخوږي نه څنګ ته او د جانان د خیالونو نه پټ چې کله زه له ځانه سره کینم. بس یو زه یو مې نوټونه. نه په ژبه بند و واز یم نه حساب د کلماتو. بس چې څه مې په زړګي وي، هغه وایم هغه لیکم. که له ځان سره مې جنګ وي، که جهان سره مې جنګ وي، که خفه یم له جانانه، که له ژونده یم ستومانه. بس یو زه یو مې نوټونه. چې په ذهن کې مې هر څه راځي، پریږدم یې چې راشي. کله له ځانه سره مشوره کوم چې ویې لیکم که نه او کله بیا اصلاً مشوره نه کوم. د ځان هم نه منم. چې څه راځي هغه لیکم. دا لیکل آخر دومره شو چې یوه مجموعه ګۍ ترې جوړه شوه.
د عمر بې وخته تقاضې د ژوند یوه برخه ده. ځیني یې جبران ناپزیرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تقاضې وي خو تیښته ځیني نه کیږي. کله یې منم، کله ورسره لاس او ګریوان یم. د دې منلو او جنجالونو نتیجه دغه وړه مجموعه ده چې د درنو لوستونکو خدمت ته اهدا ده. هره اصلاح او نقد مو په سر سترګو.

په درنښت

اکمل اعلام

(c) ketabton.com: The Digital Library



## وخت

**عبدالوهاب اعلام**
**۱۷ جولايي ۲۰۲۲**

له ژونده يو څه غوښتل هغه که په اندازه وي او يا هم له وخته مخکې او وروسته غوختنی وي، کله کله يو لوی نعمت شي. هو نعمت. د ډير څه غوښتنه د چا خودغرضه انا نه، بلکې روح دی او همدا غوښتنه د خواهش له لارې مونږ او تاسی سره اړيکه پيدا کوي. يوه برخه يې چې ولې مونږ هيڅکله په بشپړ ډول مطمين نه يو دا ده چې روح د لا زياتو لپاره په طبيعي لټون کې دی. له همدې امله غوښتنې او هيلې تل په زړه پورې تړل کيږي. هو: مګر وخت د عمر د ډيريدو په صورت کی يو څه چټک معلوميږی که څه هم فيزيکي وخت يو حقيقت دی. خيالي وخت د وخت په اړه زمونږ درک دی او څرنګه چې انسان لوييږي، خيالي وخت ورته لا ګړندی ښکاري.

بل لوري ته د ناراحتۍ لټول يو ځه عجيب عمل دی، خو دا يوازينۍ محدوده ده چيرې چې دوامداره يا د پام وړ وده کيدی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونږ دا مهال په داسې چاپيريال کی ژوند کوو چې د ډيری خلکو هدف آرام لاسته راوړل دی. چی په حقيقت کې زمونږ يو لوی شمير، نه يواځې د هوسا ژوند هڅه کوي، بلکې د ناراحتۍ څخه د تيختې لپاره هلې ځلې هم کوي. مونږ په دوامداره توګه په دی کوښښ کی يو چې د خپلې هوساينې کچه وساتو يا يې لوړه کړو. په هرصورت، يو له سترو مهارتونو څخه چې يو څوک يې زده کولی شي د ناخوښی سره د آرامی وړتيا ده. اکمل داهنر لري.

د درد لاره مې پيدا کړه ور روان شوم
ور روان شومه سره د څو دردونو

درد مې وليدو احساس مې کړو په لاره
د درد نخښې مې جدا کړې له غمونو

څه خپل درد څه د يار درد څه د اغيار درد
څه د ملک و قام و نام په خروارونو

يو څه درد مې ځان ته نور لاره کې جوړ کړ
څه چې وو هغه مې زيات کړ په چندونو

سببونه مې د هر درد راپيدا کړل
او دردونه مې تری جوړ کړل په چلونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هــــر درد دوا مې درد پــه شانتې درد کړه
پـــه فکــــرونــــو پـــه سوچـــونو پـه غمونـــو

یو درد زه شوم یو مې درد شو دواړه یو شو
دواړه یـــو پـــه نوو طــرحـــو پـه رنګـــونـــو

لا تر دې چې درد اعـلام شو اعـلام درد شو
چې کـوم درد شو کوم اعــلام شو د دردونو

همدارنګه درد هم یو ځه عجایب زان کی نغښتلي دي. درد هغه فرصت دی چې زمونږ په دید زمونږ د ژوند لارې ننګوي. کله چې شیان ښه پرمخ ځي، مونږ ته ژوند د منلو وړ ګرځي، مګر صدمه مونږ د ژوند څنډو ته رسوي، مونږ ته اجازه راکوي چې له یوې نوې افشا کوونکې زاویې څخه وروګورو او د ځان د خلاصولو لپاره یو حرکت غوره کړو. دا حرکت ممکن د نوي ملګري موندلو، د نوي کتاب لوستلو یا د یو څه لیکلو او یا هم د مختلفو کاروبارونو کې دخیلیدلو په څیر وي خو دا حرکت حتمي دی. ژوند لوړې او ژورې لري اما معیارونو او توقعاتو یې پیچیدګي یو څه رنه کړې ده. که چیرې هیڅ خراب یا سخت نه وي نو بیا به هیڅ ښه یا ساعت تیري نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ژوند تعریف دهرچا د نظره فرق لري. اکمل خپل ژوند داسې انظوروي، که څه هم لږ د ژوند ناخوالو ته متوجه معلومیږي.

د پینځــو ورځــو ژونـدون پینځه ســهاره
حوصــلـه ورتــه پینځــه ورځې د شــماره

د پینځــو ګــرمــو غــرمـــو پینځه تـاوونه
باقی یخ دیګــر و شـــام و شب قـــراره

د خنـــدا پینځه وختونه چې قضـــا شي
قضـــــایي ورته پینځه ســلګۍ پــه لاره

د شــاعـر دا مجـموعـه چـې بـې وخـته تـقاضــې نـومـیږي، پـه هرشعرکې یې فکري څواک، د فکر ښکلا، د ژوند لپاره یو مثبت احساس سره یو ځای یو ځانګړی تخییل او تخلیق موجود دی. د اکمل شاعري لفظي هم ده، چې د یوې ځانګړې پیښې څخه اخیستل شوی خو بل لوري ته استعاره هم لري، یعنی ډیری معناوې او بڼې ورکې ښکاریږي.

که نور یی وستایم ځیني به فکر وکړي چې مشر ورور یی دی باید یی صفت وکړي. نو راځئ چې باقی قضاوت تاسې ته پریږدم. دا هم د هغه نوی کتاب او دا هم تاسې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بې وخته تقاضې

څـــه بې وختــه تقـاضې زمـــا د عمـــر
د بـــازۍ وختـــونه ځـــار شـو لـه غـربته

شـــيدايي پـــه طفـــوليت د زلـــف و چشم
او بـــاقي متنــفـــــر تـــــر عـــاقبتـه

پـــه شبــاب کې د پيـــرۍ همـــه خـــويونه
پـــه پيـــرۍ کې مستـــي بې منـــاسبتـــه

بې خـــوابي بې رغبتي ځـــوانه ځوانۍ کې
د دردونـــو بـــار انبـــار بې مـــوقعـيتــه

کلـــه درد د مهـــر و لطف و وصـــل و قـــدر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلـــه درد د هر انـــــــدام بې مصلـــحتـــه

مــــو کچلـــه ريش سفيـــده په ځوانۍ کې
څـــــه پيـــري څـــه فقيـــري دراز مـــدته

نـه طفلي نـه جواني شـــوه نـه مستي شـــوه
لکـــــــه پيـــــر وم لــــه اول لــــه اصالتـــه

په راستۍ چې اوس پيري شوه شباب راغی
بــې مـــودې سعيې تمثيل بې لــــه قـــدرته

چـــې هغـــه وم چې بـــوډا ومـــه بې وختـــه
او کـــــه دا يم ســــردرګـــم لـــه اصلـيته

څـــــه بې وختـــه تقـــاضې زمـــا د عمـــر
څــــه اعـــلام څـــه زنـــدګي بې شفـــافيته

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دلنشین

کـه سپین ویښتـان د زوال لار ده، دلنشیـن ولې وي
قــدر کــه کــرښې د جبین وي مــاه جبیــن ولې وي

زمـا او ستا شباب یو ځای تیر شـو نـو بس دی کنه
د وصل شپه کې به سپین پړکی ماسپښین ولې وي

چــې راپخیــږي راخــوږیــږي چــې دا ولــې ولــې
دا زمــا عشق بــه ظــالم وخت تـــه نـازنین ولې وي

ګـــوندي ځواني لـــه سره بیا راځي بیا نوی شـــومه
ګـــني د هجـــر فکـــر دومـــره آتشیـــن ولـــې وي

لکـــه چې تـــه مې همسفـــر یې دا دردونـه هم دي
چې همسفـــر تـــور وي سفر بـه مې رنګین ولې وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا مــو د عمــر تقــاضا ده کــه بس ستړي بـه يو
پــه هــر رښتيا او پــه هر دروغ به مو يقين ولې وي

اعـــلام پــه زړه کې د هر چـا مقـام ټاکلی ساتي
نــو ستـا نفرت بـــه مې د مهر جــانشيــن ولې وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# واویلا

زمـــا ښـــار غضب غضب دی زمـا کلـی پـه ژړا دی
زمـــا ټـــول شبـــاب پـــه قهـــر واویـــلا کـې مبتلا دی

زمـــا دین ذره ذره هـــــره ذره یـــې څـــو ذرې شـــوه
زمـــا ژبـــه کې سلـــګۍ دي نظـــم و نثر یې فنـــا دی

رنګ زمـــا د ستـــرګو لاړو کـــه دنیـــا شوه توره سپینه
ګلان تـــور بلبـــلان سپین شـــو طبیعت په واویـــلا دی

زمـــا درد زمـــا په زړه وي کـمـــوم یې زیـــاتـــوم یـــې
زمـــا اوښـــکې پـــه حساب دي تبسم مې نـــا اشنا دی

د بـــدن اعضـــا مې ټـــول خـــواره واره دي مسافـــر دي
څـوک د هند څـوک د عـربو څوک د غرب نغمه سرا دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د ژونـــد او د وخت پیټی لــه اولـــه یــو څـه دروند وو
کـور مې نشته اوس همـدا پیټی هم درد دی هم دوا دی

د اعـــــلام هره لحظه د هــر یـــو رنګ خـــوازه یـادونــه
اوس که ښه دی که ښه نه دی کور همدا وطن همدا دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سایه

زه سایه ستا د قامت شوم
ته لوړېږې ته اوږدېږې
زه په تمه د رڼا یم
چې پیدا شي زه پیدا شم
ګوندې زه به هم لوړېږم
خو ګومان کوم چې شپه ده
دا رڼا د سپوږمۍ نه ده
او د ستورو په څلا کې
جسم وي سایه یې نه وي
نو زما وجود درغل دی
خو پوهېږمه چې شته یم
دا چې نه ښکارم دا وخت دی
یو ساعت خو به سبا شي
او رڼا به راښکاره شي
زه به هم پکې ښکاره شم
خو که هر څومره ښکاره شم
زه سایه یم وجود نه یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درد

د درد لاره مــې پیــدا کــړه ور روان شــوم
ور روان شـــومـــه ســره د ځــو دردونــو

درد مې ولیــدو احساس مې کــړو پــه لاره
د درد نخښې مې جـــدا کـــړې لـــه غمـونو

څـه خپل درد څـه د یار درد څـه د اغیار درد
څــه د ملک و قـــام و نـــام پـــه خـرواړونــو

یو څـه درد مې ځان ته نور لاره کې جوړ کړ
څـه چې وو هغه مې زیات کـړ پــه چنـدونـو

سببـونـــه مې د هـــر درد راپیـــدا کـــړل
او دردونـــه مې تـــرې جـــوړ کړل په چلونو

د هـــر درد دوا مې درد پــه شانتې درد کړه
پــه فکـــرونـــو پــه سوچـــونو پــه غمونـــو

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو درد زه شوم یو مې درد شو دواړه یو شو
دواړه یـــو پـــه نوو طـرحـــو پـه رنګـــونـــو

لا تر دې چې درد اعـلام شو اعـلام درد شو
چې کـوم درد شو کوم اعـــلام شـو د دردونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زیست و روزګار

نــاګــزیـــره د الـفت
ګــریـزانـــه لـه نفـرت
څـــه عجـب زیســت و روزګــار

نـــه پـــه تمـــه د دنیـا
نـــه پـــه غم د آخـرت
څـــه عجـب زیســت و روزګــار

پـــه یـــوه خنـدا پخولا
او یـــو عمـــر نداکـــت
څـــه عجـب زیســت و روزګــار

زه لـــه تا پـه شرمو پټ
او تـه مـا تــه خجـالت
څـــه عجـب زیســت و روزګــار

یـــو زمـــا عقل و ذکیٰ
او بل ستـا قـد و قامت
څـــه عجـب زیســت و روزګــار

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا جفا زما نصیب
زما مینه ستا حاجت
څه عجب زیست و روزگار

آموخته له درد او رنج
څه راحت او څه راحت
څه عجب زیست و روزگار

زما هر کلام شفا
ستا هر دید د جراحت
څه عجب زیست و روزگار

زما عمر ته زوال
ستا شباب تر قیامت
څه عجب زیست و روزگار

کله درد بې له سببه
کله هسې مسرت
څه عجب زیست و روزگار

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه خبر یم چې پوهیږي
د اعـــلام پــه هر لغت
څـــه عجـب زیســت و روزګــار

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ارزنده

کــه مې درک و فهم و عقـل افتـاده وی
نـه بـه دا هسې زعـلان نـه افسـرده وی

انا الحق مجاز په دار, باطل به څه وی
که دې وس کې پس لـه مرگه اراده وی

زمــا بس بيگا سبــا ، سبــا بيگا شــي
څـه بـه ښـه وی کـه لـز عمر ارزنـده وی

کـه تـه نـه وی زه به څه وم ته به څه وې
کـه تـه نـه وی تـه بـه هم لــز آسوده وی

غــلامي مې بيهــوده قبــولــه نــــه کړه
کــه ښکاره وی نـو يو څه به بيهوده وی

دا رښـا ده کــه پــرده زمــا پــه سترگـو
دا اعــلام به داسې نه وی که پرده وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د وخت سرعت

مـــاښـــامونـــه مې اوږده لکـــه کلـــونه
او کلـــــونه مې کـــوتـــاه لکـــه ماښـــام

لـــه مقامه راخطا پـــه څـــه شتاب شـوم
راخطا پـــه بل منـــزل پـــه بـــل مقـــام

زمـــا قـــدر خـــو دې بالکل په تا نـــه وي
ستـا پـــه نـــام هسې بې نام شومه بدنام

په اظهار مې څوک بنديز لګوی نه شي
زمـــا زړه زمـــا نظـــر زمـــا کـــلام

کلـــه غـــاړه عبـادت شي کلـــه تيښـــته
بنـــدګي او دشمنـــي دواړه اعـــــلام

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مولا

مــوعظــه و نصـــایح دې تمـهیـــدي دي
زه مســـلم ابــن مســـلم ابــن مـــولا یـم

ته فریب کې د قبضې ساز و تصویر یې
زه مـــولا یـــم لـــه دې ټـــولـو نــه بالا یم

د غفـــلت تیـــاره یلـــدا نـــه هـم اوږده ده
لـــه قـــرونـــو منتظـــر ستـــا د سبـــا یـم

مشـــاکل او مصایب خـــو عـــارضـي وي
چې پـه څـه مې رب رضا وي زه رضـا یم

تـــه هـــزار هجـر و نفـــاق و نفـرت راوړه
زه بـــه صـــدهـــزار پـــه تمـه د اشنـــا یم

پـــه اعـــــلام د نابلـــدو ګمـــان مکـــړه
زه مـــولا یم تـــا نـــه دوه ګوتې سیـــوا یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خبرې

ځــو خبــرې مــې پـــه زړه دي
کـــه يې نـــه وايـم کـړيـــږم
کـــه يې وايـــم شيطــاني ده
کـــه يې پټ کــړم خيــانت دی
پـــه خــوښۍ خنــدلی نـه شم
اوښـــکې پټـــې تـــويـــومــه
ښـــه بـــې رنګـــه بـــې اوازه
بـــې مطـــلبـــه بـــې مـــرامه
بـــې ارزښـــه بـــې ثبـــاتـــه
شـــپې او ورځې دي تيــريــږي
نـــه ګفتـــار د خپـــلې خـوښې
نـــه کــردار د خپـل شخصيته
نــه مې ژونــد پــه خپله خوښه
نــه د مــرګ تـــاريخ معلـومه
هـــره ورځ د شپـــې پـــه تمــه
هـــــره شپـــه آرزو د ورځـــې
خو نه شپه ښه ده نه ورځ ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هسې شپه شي او سبا شي
بس سوچونه او فکرونه
خو افسوس چې بدتريږي
د اعلام هسې حالت چې
د سوچ هم حوصله نه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خفګان

پــه ځــان بــاندې خفــه يم پــه جــانــان بــانــدې خفــه يم
د قـــام و نـــام په حقر جـــاويـــدان بـــاندې خفـــه يـــم

نــه تــا وينــم نــه ځــان وينم نــه حب شتــه نــه وفــا شتــه
پــه اوج د دې خفــګان کې پــه خفــګان بــانــدې خفــه يم

خــو مــرګ وي يو ځل راشي يــو ځل تير شي کيسه ختمه
لحظـــه لحظـــه د مـــرګ ظهر و کتمان بـــانـــدې خفـــه يم

پــه خپــل دين و مذهب و دود دستـــور مې تربيـــه کـــړې
تـــه لاړې اجنبي شـــوې ستـــا کفـــران بــانــدې خفه يم

د ســـاز و رنګ حـــدود يـــوه نقطـــه کې خـــلاصه شـــو
پـــه خپـــل هنـــر ادب نظم و الحـــان بـــانـــدې خفـــه يـم

همـــدومـــره بـــه بـــالا وم چې راوغورځيـــدم درز شـــو
پـــه شتـــه نـــاتـــوانۍ او نشت تـــوان بـــانـــدې خفـــه يم

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو وخت به بيا راجيګ شم بيا به جيګ شم نور به جيګ شم
اعـــلام کـــه پـــه نزول د خپـــل وجـــدان بـــاندې خفه يم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فرعوني

ستا د عشق هره خبره اکنوني ده
خو زما عقل و ذکیٰ افلاطوني ده

ته د رنج و درد له کیفه ناخبره
او زما هره لحظه دګرګوني ده

ستا جهان همه بازي لهو و لعب دی
زه ژوندی یم هره سا مې میلیوني ده

د دزدانو قاتلانو مینځ کې اوسم
نو چې پاک یمه ارواح مې بیروني ده

زما درد ته درمان ته نه یې پوهیږم
زما درد زما له درده بدوني ده

موسوي دعا ساتلی یم اعلامه
ګڼې درسته جامعه مې فرعوني ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ولېږ

وايي هــر څــه چې کــړې هغه به ريبې
زه ګلان کـــــرم زوزان ريبــم چــې ولېږ

زمــا درد د آسمــان سترګه لمده نه کــړه
خود به ستوري د آسمان ريبم چې ولېږ

کـه مې آه نـابـود ناچـار ناکامه نه کړې
زه به غوبنې د خپل ځان ريبم چې ولېږ

د اغيــار په خــوله د يار له سره تير دی
ځمــه پوزه د خپـل خــان ريبم چې ولېږ

کــه په تخت زمــا بچی زمــا نيکـه مري
نــو زه تخت د ســـليمان ريبـم چې ولېږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ولــس وژل میــــړانــــه بــولي خلکــه
ځـم شمشیر د قهـــرمان ریبم چې ولې

ارمــانــونــه د اعـــلام زړه کې کـــرلي
څـه بـه وایم چې ارمــان ریبـم چې ولې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دین او کفر

زه د رب خــــلاف راوتـــــی
ســــور کافـــر یــم د انعـامو
د شیطــــان طـــالب علــم
او دشمـــن د مـــومن نـــامو

رب چې څـــه راپیـــرزو کړي
زه په رب که پرې مشکور شم
دا وطن بـــــه ورانــــومــــه
کــه کافــر شم که مفرور شم

کـــه کافـــر یـــم زه بـــه وایم
تــــاتـــه دا اجـــازه نشتــــه
زه بـــه تــاتــه کافـــر وایـــم
ستـــا د پـــاره سجـده نشته

کــه پــه ښــه عمــل یې ګورم
پـــه والله مـــرګ یـــې روا دی
کــه عمــل یې بــد بدتـــر وي
زمـــا ورور زمـــا مـــولا دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



تــه بــه حق نــه وايې چپ شه
يــا مې ظلــم تــه حــق وايـــه
چې پـــه مــا يې ايمان راوړ
نـــو بيا څـــه غواړي له خدايـه

زمـــا علـــم پـــه کار نـــه دی
خپل بادار مې خپل آيين دی
چې هغـــه راتـــه څـــه وايي
بس هـــم هغـــه زمـــا ديـن دی

د دنيـــــا هـــــر امـــــر کفـــر
يـــو وژل د ثـــواب کـــار دی
يـــا مې وژنـــه يـــا دې وژنم
زمـــا ســـر د جهله جـــار دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کیسه

نـــو بس دغسې کـیسه ده
چې یــې زور رابــانــدې بره
نــه پــه ګفت نــه پــه خبره
نـــــه د قـــام نه د ټــبـــره
او پــه درد مې خــوشــالیږي

چې یو لرې شي لس راشي
د هغـــو نـــه ورسیـوا شي
او اختــــه پــه نــاروا شي
نــه ختمیــږي نــه سمیږي

نصیحت پــرې اثــر نه کړي
غولــول چې هسې څـه کـړي
پــه شــوتلو کې واخـــه کـړي
د امیـــر پـــه نـــوم یـادیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غمـــاز پــه خوله باور کړي
د ريبـــاره لـــرې سر کـــړي
خپلو ورونـــو سره شر کـــړي
خـــو دنيـــا ته نه ښـکاريږي

تـــول کافـــر ګـــڼي د مخې
خپل مذهب د خپـلې خوښې
څه عقدې يې زړه کې خښې
د شيـــطانه جـــوړ ډاريـــږي

زه بـــه څــه وايم چې څــه يم
د همــدوی د کـــور کالــه يم
کــه هر څـومره ترينـه ښه يم
اعـــلام دوی سره يـــاديـــږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بدلون

بــد مې مه بوله يو وخت خــو گــوره ښه وم
لــه يــوې ادا دې ســـل ځــل تــاويــدلــم
پــه خنـــدا دې غــوړيــدل د زړه گلـــونـــه
پـــه خبـــرو بـــه دې روح روان تـــازه شـــو
د ديـــدار د انتظـــار دردونـــه هـــاى هـــاى
د ديـــدار دردونـــه دې نـــه پسې زيـات وو
شب و روز زيست و روزگار راځينې پاتې
بس يـــو تــه يـــو ستـا يـادونــه يو دردونه
زمـــا ژوند زمـــا حيـــات د حيـــات هيلـــه
همـــه تــه وې همـــه تــه وې همــه تــه وې
اوس روزگار يـــو څه کارونه را په سر کړل
لـــز مې فکـــر د وسعت پـــه لـــور روان شو
په وسعت کې ځـاى زياتيزي پام دې اوسه
ستـــا مقـــام په خپل مقـــام دى بـدل نه دى
زه اوس هم هغه اعـــلام هغه اعـــلام يـــم
خـــو د ژونـــد د تقـــاضـــو جـــواب لازم دى

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زه که ته

په لعن و سب دې که رابولم په فدا که په ځار
یا بن الغریبه نه خپلیږې نه سمیږې نه یار

ته سراپا زما په ذهن و فؤاد لهو و لعب
زه همه دم د بل سهر د بل سبا انتظار

دې اعتدال دې تحمل مې لا حدود منلي
له حده پار د زرګر سل د آهنګر یو ګوزار

د اسمان سر شه یو ویښته سره دې نه سموم
زه مستقل ستا په سر سر، د سر په سر دې بادار

د ژوندانه له تاب و خمه بنه ستومانه ومه
ستا سیاست نوي غمونه نوی خم نوې لار

اعلام په یو دوه کې حیران له تصامیمو وتې
چې څوک مومن دي څوک مسلم څوک خوارج څوک کفار

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناچاري

چې دې نوم اخستی نـه شم
د غمـاز د تــرس و وهمـــه
هسې نـــه چــې دا اواز مې
يـا ستا مينه پـه کاهش کړي
يــا زمــا عمــر را کــم کـړي
خو په زړه کې راته ګران يې
محتـــرم يــې معظـــم يــې
ستــا سـوچه مينه چې ګورم
هــــــره ورځ درمييـــنيــــږم
ستــا خـلوص او شجاعت ته
زه همــه ســـلام ســـلام يم
خـــو ډاريـــږمــه ځنــګل کې
نــه ښــکاري نــه مسلح يــم
زړه مې غــواړي خـو ناچاره
چې دې نـوم اخستی نه شم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فطرت

زمـــا زړه خـــو داسې نـــه وو چـا بـدل کـــړ
آمــــوختــــه يې د دنيــــا پــه چـل و ول کـــړ

مـــا خـــو سپينــې اوريـدې سپينــې وييـــلې
په دې سپينو مې تک سپين دا تور اور بل کړ

د فطـــري حـــواســـو مخې تــــه مې نـــه شې
کفـــر نه شـــو کـــه مې ستـــا حسن اول کـــړ

د غمــــازو منـــدې تـــرړې دومــــــره تيــــزې
چې زمــــا غريب مــــزل يې پکې شـــل کـــړ

زه د خپـــل فکـــر صـــاحب د خپـــلې خوښې
تـــا زمـــا پــــه خپلــه خـــوښه جوړ غوبل کـړ

کـــه خنـــدا تـــه مې پريـــزدې غمـــونه يوســـه
ســــتا غمــــونــــو رانيــــزدې زمــــا اجل کـړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اعـــلام نـــور تش په نـــوم وصل ثقيـل دی
ژونـــد فـــراق زمـــا د همـــه عمـر مل کـــړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# آئينه

د آيين مخ ته ولاړ او ځان ته ګورم
که مې ځان ته لږ خپل ځان ته ګوندې پام شي

که ښکاره راته د څو کلونو درد شي
که يې ووينم او زجر مې تمام شي

عکس د مينې د احساس عکس د رښتياو
لا اقل که يې معلوم قد و اندام شي

که مې سترګو کې تصوير د يار ښکاره شي
که ښکاره شي او ښکاره راته مدام شي

په جبين د عمر کرښې که تقدير وي
تريو تندی ګوندې سبب د ښه مقام شي

لږ د رنج و غم دا شکل که ښکاره شي
که ښايسته وي چې مې زړه ورسره رام شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د آیینــــه هـــــم څـــه ډیـــر خـــوشـــالـــه نـــه یـــم
تک سپین پړک وي، تک تور تم شي چې اعلام شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ابتسام

ابتســـام دې جـــو ابــري شمس پرده پوشه
نـــور جــاري سرور طاري ستــا لــه آغوشه

روی بـــرتـــر چشـــم احمـــر ادا قـــاتـــلـــه
حـــلاوت د صوت رســـا تـــر هـــره ګـــوشه

غير مطلوبه غير مرغوب خو ګوره پروت دی
د محبـــو قتـــل عـــــام دا ستـــا لـــه دوشـــه

لـــه حيـــاته مې دا څـــو کالـــه درکـــم کـــړه
د وصـــال زمـــان خـــالي لـــه عقل و هوشه

د حب بيع و ربـــا تـــول تـــا تـــه حـــلال دي
يـــا نصيب يـــا زمـــا حبـــه پـــرفـــروشه

يـــا بـــه تـــه يې يـــا بـــه دين و عقـــل و علـــم
زه صايم ستـــا د ښـــکلا د خـــور و نوشـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اعـــلام عمدي غفلت خــو ښــه يې اوري
ستــا د حسن داد فــريــاد صدا خــاموشه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د درد داستان

زمـــا دغـــومـــره زامـــن وو
یــو ډاکتــر یـــو انجنیــر شو
یـــو مـــولا یـــو نظـــامي شـــو
یــو تجـــار شـــو پیسه دار شو
یــو مشیـــر شـــو د خـــواصـــو
یــو کاسب شو عـام سړی شو
یـــو خـــارج کې مســـافر شو
یـــو لـــږ وران بې تـــربیـــه شو

زه د ټـــولـــو اب و جـــد وم
زه د ټـــولـــو د ســـر سیـــوری
ماتـــه ټـــول یو شانتې ګران وو
زه پـــه ټولـــو بانـــدې ګـــران وم

د پسخـــو د ختـــو کـــور وو
یـــو زړه غـــونـــدې راډیـــو وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د درملـــو يــو څــو بــوټــي
يــو، يــو هزې چــره ايــز وو

غــريبـــي نــــه وه کافـــي وو
د هغــــه وخت تقـــاضـــا وه
يـــو دوکان وو يـــوه ځـــا وه
پــــه خطـــونـــو رابطـــې وې

زه رالـــوی پـــه ســـوچه غوړو
ښـــه تنـــدرستـــه لـــه ازلـــه
زړه مې فيـــل ځيـــني کلان وو
او د دغـــو ټـــولـــو کـــور وو
ټـــول قـــــانع پـــه خپله برخـــه
ټول مشغول په خپل روزګار وو
خـــوشـــــالـي وه قنـــاعت وو
د دې ټـــــولـــــو محـــبت وو
نو د دې په ځاې چې زوړ شم
ورځ تـــــر بـــــلې ځـــوانيدلم

(c) ketabton.com: The Digital Library



د همـــه و كـــور ودان شــــو
د هـــمــــــه و اولادونــــــــه
د همـــه و خپـــــل كـــورونـه
د همــــه و زنـــــدګـــي شـــوه
هـــر اولاد د بـــل نـــه ښـكلی
هـــره پيغلـــه د ســر تــــاج وو
هـــر مـــاشـــوم لـــكه ملک وو
هـــر يـــو ځـوان مې بركت وو
ژونـــد مـــې هسې تيـــريدلـــو
ګـــويا زه چې جـــاويـــدان يم

چـــې د چـــا د بـــد نظــــره
د شيطان مې كور ته پام شو
پـــه كلاره پـــه تـــدبيـــر يـــې
څـــه كـيسې فلسفې جـــوړې
د بـــدلـــون د نـــامـــه لانـــدې
ګمـــراهۍ تـــه شـــروع وكـړه
دې تمـــامـــو تـــه واعظ شـو
بيـــل بيـــل وعظ بيـــل بيـــل علـم

(c) ketabton.com: The Digital Library



حــرص و وعــد د مقــامـــاتو
د فلـــــوســـو د امــــوالـــــو
د قـــــوت طــــاقت د حکــم
د رواو نــــــــــــــــاروا‌و

ده د ټــولــو زړه سیــاه کــړ
د خپـــل حـــالــه د یــو بلــه
چا وییل چې ساینس مهم دی
چـــا وییـل ډاکټـــر کافـــر دی
چـــا فتــوې د قتـــل ورکــړې
نـــوم د کفـــر و دهر خور شو
ټـولـو یـو بل ته عطـا کـړل
ښــــه اسمـــا د حیــوانـــاتـــو
یـــو پـــه بـل بې اعتـبــــاره
او یـــو بـل تـه ســـره غله شو
مـــاشــومانـــو ســره کټ مټ
پـــل پـــه پـل د ابـــا کــیښود

(c) ketabton.com: The Digital Library



سـره ونښـتـل د مخـې
د يـو بـل اهـانتـونـه
او يـو بـل تـه سپکې سپورې
يـو ويـل چې زه سهـي يـم
بـل ويـل زه مسلمـان يـم
يـو ويـل زه يـم پـه حقـه
بـل ويـل تـه تـاوانـي يې
سپکـو سپـورو نـه ورپـورته
وار ګـوزار پکې شـروع شـو
بـدبيني شـوه دشمني شـوه
سـره دغـومـره پـردي شـو
چې قتـال يې هم شـروع کړ

دې حـالت تـه دې ډرامې ته
دوه کسـان پـه تمـاشـه وو
يـو خـو زه چې مې اولاد وو
پـه سـرو سـترګـو مې ژړلې
پـه ارمـان او پـه رغبت چې
هغـه زوړ وخت بـه رايـاد شـو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بــل شیـطان یې تمـــاشبین وو
پـــه خنــــدا پـــه مسخــرو وو
کلــــه یــو تــه پســـه پســـه
کلــــه بــل پـــه بــل هلاکـــه
کلــــه مــرګ پــه نوم د مینې
کلــــه دین کلــــه دنیـــا وه

خو زه خپل ځان کې مشغول وم
دا بچــي خــو ټــول زمــا وو
د قـــاتــل مقتـــول مــې دواړه
خپلـــه وینـــه خپل وجـــود وو
ژړاګانـــــو بـــانــدې ستــړې
د دنــیـــا نصـــیحتـــونـــه
خـــو شیطـــان مـــا نه تکړه وو
زمـــا علــــم کلام هیـــڅ وو
هغـــه تیـــرې خوشـــالۍ مې
داستـــانونـــه او قصـــې شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې پــــه کـــومه ګـــونا داسې
د خپل ځـان پـه وينو رنګ شوم

آيـا بيـا بـــه داســې وشـــي
چې مې هغــه کــور هغـه شـي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مجنون نسل

سپین ګفتار او سپین جبین سره جوړ نه شو
نــو کــه زیستم یــا دروغګــو یــا رو سیــا یم

هــر یــو لــفظ تــه مې ســوونـــه انتقـــاده
چې مجنـــون یم کـــه سویـــه کې لـږ بالا یم

د وجــدان د خجــالــتـــــه چـــې راوځـــم
یــار تــربــور دوست و رفیق تــه نــا اشنا یم

تنهـــایی زمـــا عــمــدي انتخـــاب نــه دی
چې د هـــر دره جــواب یم نــو تنهــا یـــم

دا زمـــا ارثي الـــم بــه مـــا ســـره ځي
د مجنـــون نســـل اخـــره بقـــایـــا یـم

لـــه خفتنـــه تــر سبــا بیــا تـــر خفتنـــه
چې پـــه تـــا یـــم نـــو غمـــونه ســـراپـــا یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اعـــــلام د قلب و ذهن اختــــــلال يــــــم
هرجـــايي يــم هم اينجـا يــم هم آنجـا يـم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ترس

زمـــا تـــرس طبيعي نـــه دی
لــــه ازلــــه مــــدافــــع وم
چې د چا مې زړه کې ترس دی
هغــه مــا نــه قــوي نه دی
خــو وړوکی چې رالــوی شوم
لــــه ابــاو لــــه اجـــدادو
بس همـــدا راتـــه زوتيـــزي
چې ډاريـــزه ډار ضـــرور دی
ډار احتيـــاط دی ډار بقــا ده
تــه کــه پــايې پــه ډار پــايې
زه بـــا ګفتـــه بـــا ادبـــه
ټـــول مې ومنـــل ډارن شـوم
کلـــــه تــرس د درد و مـــرګـه
کلــــــه ډار د غـــريبـــی نــه
کلـــــه حفـــظ د آب و رو شــي
کلـــه کلـــه لـــه شيطـــانـه
د دې ټـــولـــو يـــو خبـــره
اوس لـــه ډاره هـــم ډاريـــزم
دا لا څنګـــه زنـــدګي شـــوه
دا زه څنګـــه تربيـــه شـــوم
کــه دا ترس مې فنــا نــه کړو
نــو اعـــلام پکـې فنـــا دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ترس

يو څــو ليــل و نهــاره خـو مې پريږده چې زه زه شم
مفيــد شم کــه مضر شم که مضر شم لا به ښه شم

تــاريک ارمـــان کاذبـــو رڼـاګانـــو کې درغـــل دی
پيــدا بـه شـو تـه اشک چشم عشق زه بـه رانجه شم

خنــدا سليقــوي اجتمـــاعي خـــو زه خستـــه يـــم
يو څــو شيبې که اصل شمه اصل په خپـل زړه شم

حــوس په عشق کې ورک هلــه آغاز زما د عشق شو
عاشق يم چې په شپه د وصل ډوب په خوب ويده شم

د عمـــر درد پـــه يـــو لحظه ديـــدار ځنګـــه رغيــږي
هـــای درده بې غيرتـــه زه به ستــا د کوم خواله شم

ښـــه ګـــورې ښـــه زما د فکـر اوج بانــدې پوهيږې
را جګ شـــه لږ راپاڅه چې دې خاک پــا له زړه شم

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ژونـــد په رنګـــينيو کې ساده اعــــلام درغـل شو
تـه تـه شه چې زه زه شم چې خبر پـه زه او تـه شـــم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تنهايي

هـــر يـــو فكـــر پــه خپــل زړه تمام رويا په خپله خوښه
پكې ورک د حســـن شــوق د فـــراق درد د وصل نښــــه
چې دا زه پـــه تنهـــايۍ كـــه تنهـــايي په مـا خوشـالـه

چې تنهـــا يـــم زه بـاچـا يم زه قـاضي زه رعـايـا يــم
چې مې څنګه ځان ته خوښه وي هم هغسې ځان ښايم
چې دا زه پـــه تنهـــايۍ كـــه تنهـــايي په مـا خوشـالـه

نــه طعنې نــه پيغورونه نــه حساب غواړي نــه نـاز كړي
نــه مې كم بولي نــه زيات نــه اواز اوري نــه اواز كړي
چې دا زه پـــه تنهـــايۍ كـــه تنهـــايي په مـا خوشـالـه

خپـــل اَســـرار را اخلـــو زړو كلـــه په زور كلـــه پـه مينه
د وفـــا دود تـــــه مـــايـل دور د اغـبـــارو د آيينــــه
چې دا زه پـــه تنهـــايۍ كـــه تنهـــايي په مـا خوشـالـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمــا زړه چې ســره مــرو کــه سره پايو خپل جهان کې
کــه ورکـــيـــږو کـــه ډوبيـــږو په عيونــو د جانــان کې
چې دا زه پـــه تنهـــايۍ کـــه تنهـــايي په ما خوشـالـه

غمــازان مــو ټــول جهــان بې استثنـــا حتی, لـــه يــاره
لـــه دوستــانــو ګـــريزان پـــه پټـــه پټ لا لــــه ريبـــاره
چې دا زه پـــه تنهـــايۍ کـــه تنهـــايي په ما خوشـالـه

ستــا ديـــدار د زړه قـــرار خـــو تنهايي بـــه ځنګـه کيږي
له اعـــــلامه تـــه سنګين خـــو تنهـــايي پـــه تـــا درنديږي
چې دا زه پـــه تنهـــايۍ کـــه تنهـــايي په ما خوشـالـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پيڅکه

د خــوبــونــو يــوه پيڅکــه د افــکارو يــوه څنـــېږه
چې ستا ياد پکې ديره وو مـا راغونډه کړله غونډه

څــه دردونــه راسره وو څــه غمونــو را په شا کړه
د مبهم منـــزل په لـــور مبهم سفــر پــه وچــه منډه

ور روان مخ پـــه قبلـــه د ســـرو کاپـــرو پـه خبره
محجب د چــا په خــولــه د چـا په فکـر پـه بربنډه

کــه پـه کربنو د جبين وي نو ته هم راسره لاړ شه
مــا بلا ډغـــرې وخـــوړې اشنــــا پــه خپلـه ټنډه

معصوميت په مــا تمـام خو چې دا ولې وژل کيږم
يــا شـهيد شم يــا يتيم شمه يــا بوره شم يا کونډه

د حيات عجب قانون د روزګار لا عجب ترتيب دی
د شباب نــه تــر پيرۍ پرش جهش لــه هره خنــډه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اعــلام د زړګي زور د عمـــر سختو بدو کم کړ
ګني تل ښــه استوار وم ستــا د ياد لـه ډکــه پنډه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# میلمه

د دلـــبر د کلي ضیف رابـــرابـــر شـــو
زه حیـــران چې یې په څه پزیرایي کړم

اول جـوړه میلمستیا کــړم د ګیلــو نــه
کـــه قصـــه د رنج و غم د دارایي کـــړم

حسابي د خپلــو تویو اوښکــو ورکـــړم
نهفتن یې چې لــه ځــایـه هرجایي کــړم

ورښـــــکاره تقلـــبي خنـــدا د عــمـــر
کـــه صادق شمه دا کـــذب نهـــایي کـړم

د وصـــال د څــو شیبــو عجیب یــادونــه
چې یې زه پــه دا روزګار رهنمایي کـــړم

کلــه وایم چې په چوپــه یې رخصت کـړم
کلـــه وایمه چې جـــوړه رســـوایي کـــړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



خـو اعــــلام يمه فطرت کې مې پښتو ده
د ميلمـــه ســـره فطـرتاً آشنـــايي کــــړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رڼا او تیاره

د پینځـــو ورځـــو ژونـدون پینځه ســـهاره
حوصـــلـه ورتــه پینځـــه ورځې د شـــماره

د پینځـــو ګـرمـــو غـــرمـــو پینځه تــاوونه
باقی یخ دیګـــر و شــــــام و شب قـــراره

د خنـــدا پینځه وختونه چې قضـــا شي
قضـــــايي ورته پینځه ســـلګۍ پـــه لاره

نـــه زه ته شوم نـه تـه زه لا اقــل یـــو وار
ته به څه شې زه به څـــه لـــه خپلـــه واره

باقي شپه ده تـــور تمـــونـه دي تیاره ده
د پینځـــو غـــرمـــو یـــوه نـــه ده تیــــاره

ته رڼا د لمر خوندي کـــړه په مســـکا کې
زه بـه تـاو د افتـاب پټ کـــړم لـه غبــاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



تــه زما زړګی رڼا کــړه پــــه تیــاره کې
زه به ګرم کړم ستا خیال د زړه په داره

کــه رڼـا يې د اعــــلام د زړه قــرار وي
باقي تکــه توره تيښتــه لـــه دې حــــاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رڼا او تياره

چې په کاڼـي بـانـدې داسـې
وخت په وخت قطـرې د سختـو
راوريـــــــږي او تيـــــريـــــږي
پــــــــه کلاره پــــــــه کلاره
نــه يې غـــږ وي نــه رنګـــونـه
نـــه د چـــا ورتــه څـه پــام وي
خلک سيـــخ ورنـــه تيــريــږي
وايــي کاڼــی بلا نـــه خـــــوري
خـــو قطـــرې لــږې سيـوا شي
کاڼــی رو رو ســــوری کيـــږي
آخـــــر لاره پـکـــــې وشــــــي
بيـــا هم پـــام د چـــا ور نه شي
دا لا کاڼـــی دی چـــې ټينـــګ دی
کــه بشـــر زمـــا پـــه مثـــل
پـــه دا شــــان ورتـــه کلـونـه
مياشتې تيرې کړي او سخت وي
نـــو يـــا کاڼـــی بې قـــدرتـــه
يـــا اعــــلام د کاڼــي سخت دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ورک ځان

زمـــا عقـــل څـــه یـــو سِـــر دی
کلـــــه سیـــر کـــړي د ســـــماو
کاینــــــــات ذره ذره کــــــــړي
د دنیـــــا و مـــــا فیــــها نـــــه
ذره هـــــم تمنـــــا نـــــه کـــړي
په خپل ذات کې داسې غرق شـي
چې پخپـــلــــه نــــه پـــوهیـــږي
چې زه څـــــه زمـــا وجـود څـــه
بیـــا راپـــاڅیـــږي بیــــدار شــي
پـــه ښـي اړخ وي یـــا پـه چپ اړخ
د فنـــاو شمیـــــر شـــروع کـــړي
کلـــــه نــــــام کلــــه مقـــام وي
کلــــه زور کلــــه دستـــــور وي
کلــــه هیـــلــــه د لا نـــــــورو
د ســــــــریع غنـــیٰ او امـــــن
دا بـــــل اړخ یې بیـــا بـدل وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځـــه ګيــلې ګــوزارې ځــان نـه
ځـــــه د خـــپــــلــو د پـــرديـــو
د چـــا لــږ شــان ښــه جبل شـي
د چـــا ډير ښــــه نــاپديــد شــــي
خپــــل وجـــود تــــه بې ارزشـــه
او غبـــــا پـــــه تعقـــــل كــــې
دا خـــو سمـــــه ريشخنــــدي ده
زه بـــه ځـــه وايــم چې ځـــه يـــم
كـــه دې ځـــان چـــرته پيــدا كـړ
چم ګاونــــډ ته يې اعـــــلام كړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Bey Wakhta Taqazey

Pashto Poetry

ماښامونه مې اوږده لکه کلونه
او کلـونه مې کـوتاه لکه ماښام

ISBN 978-9936-1-0629-1

Akmal Elam



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**